په پیغمبر باندي دایمان غوښتنه اوتقاضا داده چي دهغه متابعت به کیږي دهغه اطاعت اوپیروي به کیږي. چاچي پیغمبر (ص) اطاعت اوپیروي ونکړه نه په الله (ج) باندي دهغه دایمان دعوي رښتوني ده اونه هم الله پاك دهغه سره مینه ساتي صریحاً فرمائي چي تاسودالله (ج) اودهغه دپیغمبر (ص) اطاعت وکړي که له دي خبري نه ئي اعراض اوډده وکړه نوالله پاك ددغه کافرقوم سره مینه نه لري . پیغمبر(ص) سره مینه اومحبت دایمان لویه غوښتنه ده . پیغمبر علیه السلام فرمائي چي : دهغو خلکو ایمان ترهغه قبول نه دي ترڅوچي زه دهغوي له پلار، زوي ،اوترټولو خلکونه زیات محبوب نه وم .

دپیغمبر (ص) سره ډیره مینه هومره چي له هیچـا سره برابري ونکړي شي له خداي (ج) نـه رالاندي ترپل هرچانه له

هغه (ص) سـره دانسان زیاته مینه وي دامینه دایمان لـویه غوښتنه ده ، دادایمان لویه تقاضا ده او همدا راز دپیغمبر(ص) توقیر اوتعظیم ده دایمان لویه غوښتنه ده الله (ج) فرمائي : «یاایهاالذین امنوا لاتقدمو بین یدي الله ورسوله واتقوالله ان الله سمیع علیم »

اي هغوخلکوچي ایمان موراوړي له خداي (ج) نـه وویریږي اودالله (ج) او دهغه دپیغمبر(ص) په وړاندي مخکي، مخکي، وړاندي، وړاندي مه کیږي اوله هغه (ص) نه مخکي تګ هم اوله هغه نه مخکي ، مخکي خبري کول هم یې باکي اوبي اعتنائي ده. له دي نه الله پاك موږ منع کړي یو دهغه دومره توقیراوتعظیم کوو، په وړاندي بـه ئي په زور اوچت غږخبره نه کووڅوك چي دپیغمبر(ص) په وخت کي ژوندي وو دهغه په مجلس کي په دي مامورو وو چي دهغه (ص) په وړاندي به په اوچت غږ خبره نه کوي، دهغه توقیراوتعظیم به ساتي . دهغه درحلت نه بعد هم مومنان په دي مکلف دي چي کله دهغه کلام ویل کیږي باید ساکت اوخاموش وي اوهغه ته غوږشي . دپیغمبر(ص) توقیراوتعظیم د هغه په لوئي ،عظمت اووقار اعتراف اودهغه مراعات کـول دایـمان بلـه لـویه غوښتنه ده .

همدارازچي پیغمبر (ص) اطاعت دایمان غوښتنه ده دهغه نه پرته الله پاك دچاایمان نه قبلوي ، دپیغمبر (ص) پرموږ ډیرحق دي، که دي (ص) نه وٰي نو موږ خداي (ج) نه شو پیژندلي، که پیغمبر (ص) نه وٰي موږ حلال اوحرام نشوپیلولي ، دپیغمبر(ص) په ذریعه ده چي موږ حلال له حرام نه تفکیك کوو، خداي (ج) سوږ پیژندلي ، مفید او مضر سره بیلوو، دوست اودښمن بیلولي شو، ددي دین په خاطر پیغمبر(ص) ډیرزحمتونه اوزیاتونه ګاللي، دقوم دښمني ، له ملك نه تعبدکیدل، هجرت اودقوم مخالفتونه ، پـه دي لاره کي قرباني

ورکول، دهغه دقربانیو په نتیجه کي دهغه دخولواوویني په نتیجه کي . دهغه دشپي ورځي دعوت اوزحمتونو په نتیجه کي دادین موږته رارسیدلي، که هغه نه وٰي نو انسانان بـه همغسي د لکه دجاهلیت په دورکـي ، چـابـه خپلي لوڼي خاورو کي ښخولي او پـه کورکي لوڼ پیداکیدل به ځان ته عیب ګڼل دادخپل عزت ،نفس لپاره تحقیرګڼلواولیدل موږچي هغوي لوڼي ژوندي په خاوروکي ښخولي، حرام به ئي خوړل، دحق اودعدل اوظلم مینځ کي چافرق نشوکولي، قرآن عظیم الشان دپیغمبر(ص) په باب فرمائي چي هغه تاسوته لیږل شوي، تاسولپاره اسوه ،نمونه اوالګو دي ، هغه څوك چي په خداي (ج) ایمان لري له هغه (ص) سره به مینه ساتي اوپه آخرت به ئي باوروي ددغسي کسانو لپاره پیغمبر (ص) نمونه ،اسوه اوقدوه دي . « ولکم في رسول الله اسوة حسنه لمن کان یرجوا الله والیوم الاخر » .

تاسولره دپیغمبر (ص) په شخصیت کي اسوه اواقتداء ده نیك اوغوره ، هغه چالره چي الله (ج) ته امید لري اوآخرت ته امیدواروي . که غواړي په دي پوه شي چي الله (ج) تـه امیدواري څنګه وي اودآخرت په نسبت امید واره اوسیدل اودالله (ج) ډیـر یادول ، څـه معنالري داوپیغمبر علیه السلام په شخصیت کي ولټوه چي هغه ترهرچانه خداي (ج) ته امیدواردي او دامید داري معني هلته ښئي، چي هغه هیڅکله هم دخداي (ج) نه نه دي مایوس شوي دسخت نه په سخت حالت کي هـم هغه امیدوارپاته شوي، دخداي (ج) پـه وعدو رښتیني ، اوهمیشه ئي دهغـه مرسته اونصرت ته امیدساتي، هیڅ حالت هم دهغه ‹‹ ته صدمه نـه ده رسولي حبیبته دادمن اوامیدوارؤ که غواړي په دي پوه شي چي الله (ج) تـه دامیدواري معني څه ده نودپیغمبر(ص) په اقتداء کي تاسوته په دي کي نیکه اقتداء ده .

نوربیا

چی کشور دافغانانو معطرکا
دهربیت مصراع می زلفی د خوبان کری

رحمان بابا

دغونچی د رباط ور په واکیدو دی
قافله درنګ وبو دروموی سباشو

شیدا

دادب ورزمی

چلوونکی: محمدآصف (صمیم)

داستان

دکیسي اوریدل او یا اورول د انسان په طبیعت کي یو اخښل شوي کار او دهغه یوه په زړه پوري مشغولاده. دکیسواورول او اوریدلو تاریخ ډیرلرغونی دی . هغه وخت لا انسان په لیکلو او لوستلو نه پوهیده او په غارونو باندي یې تصویرونه هم نه شو رسمولی چي د کیسو اوروڵ یې کول . حتی د کیسو اورول هغه وخت پیل شوی چي انسان په دو ویښو وډریده او تګ یې زده کړ . د کیسـی اورول یا اوریدل د نړی پرمخ په هره برخه کي پیدا کیږي . یعني مهذب قومونه هم کیسی لري او حتی هغه خلك هم د کیسو اوروڵوسره مینه لري چي په اصطلاح تهذیب یې لا سترګی هم نه وی سپړلی . ګویا کیسی

اوروڵ او اوریدل د کوم خاص کلتور او تهذیب زیږنده نه دي . په دی بر سیره همدا رنګه دا دکوم مهذب قوم امتیازی خصوصیت نه دی . بلکه کیسـه ویل په انسانی روحیاتو کی داخل دي . دئن نه په کلونو کلونو وړاندي د داستانو نو په ذریعه د هغه وخت خلکو پرواژي دخپل طبیعت څرګندونه وکړه ، بلکه دوی د خپلو د استانونو په ذریعه دخپل ، راتلونکی ژوند پیشګوینې هم کولی . د دا ستانونو په ذریعه دوی ته په مځکه کی پټی او ښښی شري خزانی په نظر ورتلی او همدا رنګه دوی به دهغو په ذریعه د قضا په لوړوکی الوتنی کولی . د پوان ، پیریان ، ښاپیریان ، خطرناك ځناور او داسی نور د دغو کیسو کردار جوړوی .

نه شول ، نوهلته او همغه وخت به دوی په خپلو خو یونو کی د خپلو غمونو ښشپړتوب لید. او ځانونه به یی بریالی حس کول . همغه وو چی دغه خوبونو داستانونو کی را پریوتل . د کومو قوتونو په مقابل کی چی دوی ځانونه ضعیف حس کول هغوی ته دوی په داستانونو کی ماتی ورکړه . په دی توګه سره د ممتاز حسین په قول « د کومو شیانو په آرزو کی چی مړه کیدل ، دهغوی د تحصیل خوب دوی په کیسو کی لید . د ژوند د سفر په لوړو ژورو کی به چی کوم ختنونه ورته د مخه کیدل د هغوی سره مقابله ، پنجه نرمول او په هغو باندی د بریالی کیدلو او خپلی خوښی سره سم اړولو زده کړه هم دوی د خپلو کیسـوپه ذریعه کوله »

د داستانونو تاریخی یادونه

په پورتنی بحث کی مو د داستانونو روحیاتی یادونه وکړه . ښه به دا وی چی دهغه څه ناڅه تاریخی یادونه هم وکړو . که چیری موږ په تاریخی توګه سره د هغه مطالعه وکړو ، نو په څرګنده بڼه چي داستان ویلو په یوه داسی وخت او زمان کی پرمختګ وکړ ، چي د خلکو سره نسبتاً د فراغت زیات وخت ؤ . د صنعتی ژوند د پیل کیدو څخه د مخه وخت کی کله چی د ځمکی د مخ د آبادی په زیاته برخه باندي بزګرانو زراعتی کارو بار کاوه . هغه د یوه کور ټوڵ ضروریات د زراعت له لاری پوره کیدل . د کورنی ټولو غړو به په زراعت کروند وکی کارونه کول . د فراغت په وخت کی به یی داستانونه ویل ، او په دی توګه سره به یی خپل وخت په ښه توګه سره تیراوه . لنډه دا چی داستانونه هغه وخت پیدا شول چي لا انسانی شعور زیات پرمختګ او وده نه وه کړی ، او انسان د خپلو جذباتو د تسکین د پاره د دیو یانو ، پیریانو او داسی نورو مافوق الطبیعت شیانوته د خپل ځان سره د مرستی بلنه ورکوله .

دخوبونو حقیقت :

روحیات پوهان د خوبونو په برخه کی وایی چی انسان خپل محرومیتونه د خوبونو په شکل تر لاسه کوي . راشئ چی لږ تر لږه هغه وخت او زمانه مطالعه کړو په کومه کی چی انسان د طبعیت په مقابل کی خپل ځان بی لاس او پښو محسوس کاوه ،دوی د غارونو په تیارو کی د زهر ناکو حشراتو په مقابل کی تسلیم وو . دوی همدارنګه په پراخو دښتو، صحرا وو او د ځنګلونو په بی پایانه وسعت کی د ډیرو ځنګلونو حیواناتو ښکارکیدل . خو کله ناکله به چی د هغوی څخه بچ شول ، نو د موسمونو د بدلونونو په مقابل کی به بی توان نه درلود او په نتیجه کی به شپه ورځ په همدغه فکر کی ډوب ؤ . کله بـه چی پـه همـدغـه ډوب فکرکی ویده شو ، نو د خوبونو په جهان کی به بی ماڼی جوړولی، په ځمکښیو او

آسمانی قوتونو باندی به یی بریالیتوبونه په برخه کیـدل . کله به چی د ژوند په حقیقتونو باندی په خپل وخت سره بریالی

وطنه

ته مي تن ، تـه مي وجـود یي
ته مي هست یي ته مي بود یي
ته مسجد مي دسجـود یـي
ته مـي روح ته مي کـالـبـدیي

***

ددنیا جنت بـه څـه کـړم
دچا تاج او تخت بـه څـه کـړم
شي لوځړي شوي ایري شوي
ستااوښتي بخت بـه څـه کړم

***

ته مي مینه ، تـه الفت یي
ته مي ژوندیي، ته مي پت یي
ته مي شان ته مي شوکت یي

***

زه بي اووم ، تري لوګي شم
له زګیروو نه دي واري شم
دچا بد نظر درپـریـووت ؟
کـاشکي زه دي سپیلني شم

***

په ټوټي ټوټي ځانانه !!
زماخوږ افغـانـسـتـانـه !!

صفیه صدیقی

له « ادب ، کلچر اور مسایل » نه ژباړه

دادب په باب یوه پوښتنه

دادب په باب همیشـه داپوښتنه را ولاړیږي ، چی ادب څه ته وایی ؟ دی پوښتني ته له ځواب نه مخکي که دا و پوښتم چي ژوند څه ته وایي؟ نو ستاسي ځواب به څه وي؟ تاسي که هرځواب راکړي ، بیا به هم جامع او هر اړخیزنه وي ، او که وي هم ؛ نو همغه زاویه به یکي وي، چي تاسي په خپله ژوند ته کتلي او یا ورته ګوري ، دا ضرورنه ده ، چي نور هم ور سره یوه خوله شي او بایي ستاسي په ځواب اړیه وځنبي ادب څه ته وایي! هم دغـسـي یوه پوښتنه ده او دا له دي امله ،چي پخپله ادب هم دژوند د انځورني نوم دي . ځرنګه چي ادب دالفاظو اوکلمو له اړون نه را منځته کیږي اویه دغوالفاظو کي جذبه او فکرهم ورګډوي ،نو ویلاي شوچي دالفاظو په ژبه دجذبي، احساس او یا فکر ځرګندونی ته وایي.دا یو داسي تعریف دي چي پکي هري هغي خبري ته ادب وایي چي دیوي جذبي احساس اویا فکرځرګندونه پري وشي اوله ژبي اوقلم راووځي . خو زما غوندی تاسی هم پوهیږي چي له خولي او قلم نه هره راوتی خبره ادب نه وی . د ورځپاڼی ستون (کالم) یا سرمقالی ته ادب نه وایی ، سره له دی چی الفاظ هم پکی وی او دا اغیزی زورهم . لیکونه موږ ځول لیکو، خو دغه لیکونه د ا دب په چوکات نه راځی ؛ خو دغالب لیکونه په ادب کی شمیل کیږی . د غالب اونورو دلیکونو د پرتلی له مخی ویلای شو، چی ادب داسی لیکنی ته ویل کیدای شی ، چي د الفاظو او کلماتو اوړون کی داسی شوی وی ، چی لوستونکی تری خوند او لطف واخلی او په مانا(پوهیدو)یی خوښی په برخه شی .

داهغه وخت کیدای شی ، چی د الفاظو او مانا له پیوستون او اعزلوته خوبنه یا ښییـوب (جوس) وځاځی ، همدغه ښیښوب لیکنه ادب کوی د دی خوښی تړون زموږ په دننه کی له هغه نغښتی احساس سره وی ، چی موږیی په لیکنه کی په موند وسره خوښی احساسوو. د غه خوښی په همغه ما نا کی هم نغښتی وي ، چی پری پو ه شوی یو . دا په هغه لیکنه وی چي زموږ د شعور او ازمیښتونو (تجربو)په زیرمو کی تری زیاتوب راغلی وی اوله نا آشنا ازمیښتونو سره یی داسي اغری ، لکه زموږ خپلي تجربی چی وی دا په داسی لیکنه وی ، چی اغیزه ګی مهالنی او موقته نه وي ، بلکی تلپاتی اوله مهال او مکان نه په آزاد د افاقیت لرونکی وي . د همرغو ځانګرتیاوو په رڼاکی د مولانارومی مثنوی، دحافظ دیوان ، د غالب وینا، د میر اشعار ، د شکسپیر زیږونی او دافلاطون خبری تن هم موږ متأثروی .

او په تجربو او شعورکی مود خوښی په احساس سره زیاتونه کوی . په کومه لیکنه کی چی په یووخت دغه ټولی ځانګړنی وی . هغی لیکنی ته ادب وایی او چی څومره پکی زیاتی وي ، همغو مره هغه ادب د سترو ادبیاتو په لړ کی راځی .

د ادب په باب دا خبر ه یا دساتل پکار دی ، چي ادب په ژوند کی د کوم وبدلـو او صله نه وی . که بیا هم دکوم بل عمل بدلـ ، غبرګون او عکس العمل ښئی ، نو هغه به ادب نه وی ، ادب داسی یوه ځرګندونه ده ، چی د ژوندانه دشعورترلاسه کولو لپاره بنسټیزارزښت لري . په ادب کی د انسان د تخیلی ازمیښتونو د ځلونی داسی یوه پیاوړی ځواك پروت وی . چی لوستونکی د هغو ازمیښتونو ادراك کوی . په ادب کی یو خو ځند او زموږ د ویدو صلاحیتونو د ویښولو یو زوروو ځواك پروت وی ، د ادب په وسیله د ژوند شعور تر لاسه کیږی او همدا د ادب یوه ځانګړنه ده .

ادیب هغه انسان دی، چی د ادراك وړتیاهم پکی وی او دهغی د ځرګندونی ځواك هم د ادیب په ادراك او ځرګندونه کی دومره دننی ا و بهرنی پراختیا او ژورتیاوی ، چی که ادبی زیږونی یی فردی او ځانګړی هم وی ؛ خو افاقی او هراړخیزی وي ، د ادیب دشعور ، ادراك او ځرګندونی اندازه اوافاقیت دهغه د تجربی په رنګارنګی پوری اړه لري .

د ادب په وسیله موږ د نورو په ازمیښتونو او تجربو کی ځان ورګډ وو . ځکه خو د ادب پرغولی او بام باندی موږ ترځانه ډیر زیات لوړیو .

ادب د ادراك د عمل د فوق العاده قوت په وسیله زموږ د عامی شتمنی پر غځونی سر بیره د شعور یوه داسی کچ نه راولی .

دزړه خواله

دګران افغانستان پر سیاسی فضا تاستي خپـي لکه د ټولني نوري ژوندني چاري چي په ټپه درولي ، دغـسي یې په کولتوري او فرهنګي ساحه کي هم خپلي ناولي منګولي ښخي کړي دي ، ټیټښي ته د فرهنګي او مسلکي استعدادونو له اړایستو نه واخله د ملي موزیمونو ، کتابتونو اونورو فرهنګي مرکزونو تر لوټلو پوري په هیڅ څیز صرفه ونه شوه.

څه موده مخکي په لندن کي یوه پاکستاني تاریخپوه له بي بي سي سره په خبلوڅرګندونو کي دافغانستان د لرغونو آثارو د له منځه تلو په اړه وویل : چي د انګلستان په یوه موزیم کي پردي سرونورو آثاروسر بیره دافغاني طلایي اسعارو یو پنځوس زره سیکي پرتي دي ، چي دا غالباً په همدي وروستیو څو کلونو کي دغلته وړل شوي دي .دا هم په هر حال ، ورځه داسي ویوله چي دځای ځایګي پته او څرك خوږي لګیدلي دي ، غم دهغو نادیاتو اوحتي هغو ځانګړیو (منحصر بفرد)چاپي او قلمي نسخو کوه ، چي نه یې مږي معلوم شو اونه یې ژوندي، نوري په ملي شتمني پوري اړوندي مخطوطي خو پریږده، چي دهیواد دیوه ځوان محقق جاغلي (هیوادمل) دزړه په وینو پیداکړي اواخیـستي څه له پاسه دري سوه قلمي نسـخي د پیښور په بازارونوکي لاس په لاس په ګرځیدو ولیدل شوي .

آیا دیوه اولس له فرهنګ اوفرهنګي میراثونو سره دغـسي چلن ګني دیوه پر له غبشي او منظم پلان له مخي ددي لپاره نه کیږي ، چي دغه میرني او په کولتوري میراثونو شتمن ویاړلي اولس له خپل ویاړلي اوزرین تاریخ سره له اړیکو نه بي برخي شي چي سبانیو اوسیاني تاریخ ته د خپلوویاړنو اوافتخاراتوپه باب ټیټي سترګي ونیسي ؟

دا هغه ناوړین او غمیزه ده ،چي که همدانن یې خصمانه اومخنیوي ونه شي ، نو دقرآن، له علمي او فرهنګي حیثیت سره به زموږد ښاغلیو واکمنو او چارواکودغه دخولي تشي دعوي به آیا دسبانیو بي فرهنګه اخلاقو په وړاندي ددوي مخونه تور نه کاندي ؟

که نن هم زموږ دغه ښاغلی له دغی مختوری نه ویریږی، نو نوردی په دی باب پر دغه کړی بی غوری یوه ژوره بیاکتنه او پښیماني وکړي او ددغو فرهنګي میراثونو دژغورنې لپاره دي په ناروا ورور وژونکیو جګړو کي د میلیاردونو له خرڅ نه یوڅوفیصده رابیلي کړي اوځانونه د اوسني نسل د سبانیو په وړاند ي د فرهنګي بدنامي له بي شرمي نه لږ وژغوري .

ثانحنه



نهیلي

مـه راوړي نفـاق دلـته مـوګـي دي ډیر
غرېښي مو دوروتـو پري وریښي شـولـي
څوك په وینو سره ، څوك ځنکدن کي دي
تللي لـه دي باغـه بـلـبلان دي ټـول

مه راوړي بـاروت دلـته لوګـي دي ډیر
سري په دي اور دلـته ټولګي دي ډیـر
سرویـنوکي ډوب راتـه زوګـي دي ډیـر
ښکـاري چي مالیار سره جنګي دي ډیر

باغ لـه تـندي وچ دي مـالي خـوب وړي
وچ هـسي ولاړ دلـته نهـالـګـي دي ډیر

نورآغا ابراهیمي

دجهان شهادت است علی سبیل تعمیم
تا بر مردم گیتی بشیر ....

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبر مسلسل (۱۱۳۵) سال نزدهم یکشنبه (۲۳) ثور ۱۳۷۵

قیمت یک شماره (۳۰۰) افغانی (۳) روپیه

نبوی لارښوونې

له حضرت ابوذر(رض) نه روایت دي چې حضور(ص) فرمایلي دي: درې کسان داسې دي چې دقیامت په ورځ به ورسره الله تعالی نه خبرې کوي. نه به ورته درحمت په نظرګورې اونه به یې پاکوي (یعنې نه به ورته ګناهونه معاف کوي) بلکې ددوی لپاره دردناك عذاب دي . ابوذر (رض) وایي حضور(ص) داخبره درې ځلې وفرمایله .

ابوذر(رض) وایي ماعرض وکړ تباه شول اوتاوانیان شول داڅوك دي یارسول الله، حضور(ص) وفرمایل : یوچې لنګ (پایڅوګ) یې دبجلکونه ښکته وي (دکبراولویې په خیال) بل چې احسان یادوي اودریم چې دخپل مال دخرڅولو له پاره په دروغو قسمونه یادوي .

(مسلم)

احکام دین خودرا بیاموزیم

مسائل آذان واقامت

۸ - باشنیدن اولین آذان جمعه تمام کاروباررارهاکردن وبه مسجدرفتن راجب است، بعدازشنیدن آذان، به کارخود ادامه دادن وکارکردن حرام است .

۹ - وقتیکه آذان شنیده شود، چه مردباشد ویازن، چه پاك باشد ویادرحال جنابت، بهرحال باید که به آذان توجه کند. اگر درحال رفتن است، مستحب است که ایستاده شود، ودرهنگام شنیدن آذان غیرازجواب دادن آذان به کاردیگري مشغول نگردد، تاجائیکه سلامي راجواب ندهد، حتي اگربه خواندن قرآن مجید مصروف باشد، خواندن آنرامعطل کند.

۱۰- آنکه آذان میدهد،اقامت نیز حق اواست. البته اگرآذان دهنده جائي برود ویا خود بخواهد که شخص دیگري اقامه بگوید، پس اقامه گفتن شخص دیگري درست است .

۱۱- مؤذن درهرمسجدي که فرض رامیخواند، درهمان مسجد باید آذان بگوید. آذان گفتن مؤذن دردومسجد براي یك نمازفرض مکروه است.

۱۲- اگرچندین مؤذن یکجاآذان دهند نیز جایز است .

۱۳- باپیداشدن بچه (متولدشدن بچه) درگوش راست آن آذان ودر گوش چپ آن اقامت گفتن مستحب است.

دشينوارو داچين په ولسوالۍ کې قومي جګړه پيل شوه

دورمې ورځې په نښتو کې څلورتنه ټپيان شوي دي

ددغې جګړې له امله دننګرهار دخلکو تشويش زيات شوی دی

ننګرهار - دغوايي ۲۲ مه :

دشينوارو داچين په ولسوالي کې قومي جګړه پيل شوې ده .

دجلال آباد له ښارڅخه، دحزب اسلامي یو خبري منبع شهادت ته وويل چې : دشينوارو داچين په ولسوالي کې ددوو قومونو هريو رامدادخيلو، بابرخيلو اوميراخيلو ترمينځ د شړي دېښتې په سرباندې تاوتریخوالي په جګړه بدل شوي دي اوپه دې وروستيو ورځوکې دغوقومونو په يوبل باندې بريدونه کړي دي چې بوازې دورمې ورځې په نښتو کې څلورتنه ټپيان شوي دي .

منبع زياتوي چې : داچين په ولسوالي کې دوروستي قومي جګړې دپيل کيدو له امله دننګرهار دخلکو تشويش مخ په زياتيدودي .

دننګرهار اوسيدونکي په دې عقيده دي که چيرې ددغوجنګونو مخنيوي ونشي ددې امکان شته دي چې دغه جګړه دننګرهار دولايت نوروولسواليو ته هم سرايت وکړي .

دمايونونو پرضد دافغانانو مبارزه
يواسلامي فرض يوه ملي دنده يوه خيرعمل

"دمايونو پرضد دافغانانو مبارزه"يوه غيردولتي اوغيرانتفاعي ټولنه ده چې تراوسه ۲۱ افغاني خيريه موسسي پکې غړيتوب لري اودمبارزې اصلي مقصدئې په هيواد اونړۍ کې دمايونو داستعمال، خرڅلاو، ساتلواوجوړلوسلاسي بندول اودماين له خطرڅخه دخلکو عمومي خبرتيا ده

دهيواد جيدو علماووته يوسوال ! اوله هغوي يوه دخبرهيله !

څرګنده ده چې جګړې کورونه ورانوي اوانسان پکې وژل کيږي . ولې هغه څه چې له جګړې وروسته کلونه اوښلونه خلك ځوروي اوکړوي ، له جګړوپاته دهغريدمرغه ميراث يعنې ماينونه دي .

ماينونه نه دجګړې پاي پيژني اونه کوم اوربند، ماين داسانانو هغه روند دښمن دي چې خپل اوپردي،عسکراودهقان، لوي اووړوکي بې ګناه اوګناه ګارنه پيژني . ماين چې کله ښخ شوبيا بيله توپيره دهرچاژوند تـرتهديد لاندي نيسي .

اوس زموږپه ټولې کې ترلس مليونه زيات ماينونه دخلکودوژنې لپاره کرل شوي، هرکال دماينونو په چاودنوکي په دنياکي ۲۶۰۰۰ بې ګناه کسان وژل کيږي .

افغانستان دنړې له هغوهيوادونو څخه دي چې ترټولو زيات (لس مليونه) ماينونه لري، دماينونو په وجه زموږپه غريب هيواد کې ٤ لکه کسان معيوب شوي چې هغوي به ټول ژوند دنورو دلاس اروي، همدارنګه په کال کې تقريباً ۸ زره بېګناه افغانان دماينونو دحادثاتو ښکارګرځي .

اوس په هرساعت کې زموږپه هيواد کې يوه دماين چاودنه کيږي .

ماينونه ترټولوزيات په هغوسيمرکې ايښودل شوي چې مهاجرين به بيرته هلته دروسي . ماينونه دمهاجرينو دبيرته ستنيدو اودوطن دبياودانولو په لارکې ترټولوستره ستونزه ده . زموږ په هيواد کې دماينونو زياتره قربانيان ووړکي ماشومان دي چې هيڅ دول ګناه اوجرم نلري .

ماينونه ترټولو زيات زموږ دهغوغريبو خلکوژوند ته خطردي چې باپه کروندو کې کارکوي باله دښتاوغرونو څخه ټولوي اوياپه غرونوړغونوکې مالونه څروي .

اوس زموږپه هيواد کې ترلس مليونه زيات ماينونه دي چې کلونه کلونه به زموږخلك وژني .له بده مرغه دماين ايښودل اوس هم دوام لري ،بيل بيل طرفونه په جګړه کې ماينونه ږدي چې دابه زموږمظلوم هيوادوال او ووړکي ماشومان کلونه کلونه وژني او معيوبوي .

دماين له ويرڅخه دخلاصون په خاطر بايد ټول افغانان دماينونو دجوړولو ، خرڅولو، ساتلواوښکار وړلوپه خلاف غږپورته کړي .

څنګه چې زموږمقدس اسلام دسولي امن اودانسان دښکمرغي دين دي پدې خاطربايد زموږمحترم اوجيدعلما، سپين ږيرې اودجوماتونو محترم امامان په خپلوخطبوخبرواوموعظوکې دماين په خلاف آواز پورته کړي اودماين خښولو غيراسلامي اوناروا عمل وغندي اوخلك لدې ناپښونکي ظلم اوناروا څخه منع کړي .

دماينونو پرضد دافغانانو مبارزه ، پدې هکله دجوماتونو له ديرو محترمو امامانو هيله کوي چې :

دهغومعيوبينو په خاطرچې نه پښې لري اونه لاسونه .

دهغوځوريدلو کورنيو دسوي آه اوروږيدلو ارمانونوپه خاطرچې دخپلې کورنۍ غړي يې په ماينونوشهيدان يامعيوب شوي .

دهغوځوانانو په خاطر چې پښې اولاسونه نه لري اوټول عمرمحتاج دي .

دهغووړوکوماشومانو په خاطرچې ماين نه پيژني خويه ماين آلوزي !

اوبالاخره دخداي (ج) د رضا په خاطربايد دماينونو له ساتلو خښولو او خرڅولو خلك منع کړي او دجومات له پاك او سپڅلي ممبرڅخه دادحق چيغه پورته کړي .

ماين استعمالونکي ،ماين ساتونکي ، ماين خرڅونکي اوماين اخيستونکي وغندي اودهدايت لاروروته په ګوته کړي .

دماين پرضد دافغانانو مبارزه ، دماينونو په خلاف دافغانانو ملي غږدي، موږله ټولو هيوادوالو مخصوصاً له جيدوعلماو هيله کوو چې دا دخيرچيغه نوره هم پياوړې کړي اودماين په خلاف په دې شرعي، انساني اوخيري عمل کې شريك شي . دماينونو پرضد دافغانانو مبارزه په ټولو هيوادوالو غږکوي چې دماينونو په ضد جهاد کې شريك شي، څکه ماين ماهم وژني اوتاهم اوزموږ راتلونکې نسلونه هم .

آذربایجان وارمنستان اسرای جنگی رامبادله نمودند

باکو - ۲۲ ثور :

جمهوري هاي آذربايجان وارمنستان بيش از (۱۱۰) اسير جنگي خودرا مبادله نمودند.

بنابرگزارش خبرگزاري ايتارتاس يفګيني پريماکوف وزيرخارجه روسيه ، هنګام تبادله اسراي جنگي دوطرف که درجريان منازعه ناگورنوقره باغ «قره باغ عليا» قبلاً دستگيرشده بودند، حاضربود .

وزيرخارجه روسيه اظهارداشت که باعملي شدن اين پروسه ، حل مسئله جنجال برانگيزناگورنو قره باغ ميان آذربايجان وارمنستان آغازمي گردد.

گزارش مي افزايد که (۷۰) اسيرآذري ديروز ازارمنستان به باکو پايتخت آذربايجان توسط طياره انتقال داده شدند وهم چنان درحدود (۳۵) اسير ارمني را مقامات ارمنستان تحويل گرفتند .

گفته مي شودکه عده اي ازاسراء، بشمول (٤) نظامي روسي ودو آذري ازرفتن به کشورهاي شان خود داري نموده اند .

غرب افغانستان منطقه عمده تولید موادمخدر خوانده شده

لندن - ۲۲ ثور :

غرب افغانستان يکي ازعمده ترين منطقه توليد موادمخدر درجهان مي باشد.

مطابق گزارش راديوي بي بي سي اداره پروګرام نظارت مواد مخدر سازمان ملل متحد درمناطق مختلف افغانستان براي جلوگيري ازتوليد وقاچاق مواد مخدر، دفاترخودرا بازگشايي نموده تاازاين طريق، کاشت وانتقال مواد نشه يي را ازافغانستان بخارج تحت نظارت قراردهد .

درگزارش ازحکومت پاکستان خواسته شده که درجهت جلوگيري ازتوليد و قاچاق مواد مخدر از طريق اين کشور اقدامات جدي نمايد .

په کابل کې د «حکمتیار» د

دکابل له هيئت سره خبري قناعت بښونکي وي .

په ريوټ کې ويل شوي دکابل ددولت هيئت په اسلام آباد کې دپاکستاني مقاماتو سره دکتني په وخت دوي ته داډورکړي چې له ځنډپرته به په کابل کې دپاکستان دسفارتخانې لپاره موقتي ځاي برابرکړي ترڅودکابل دولت اواسلام آباد ترمينځ ديپلوماتيکې هلې ځلې ګرندي اووضع عادي حالت ته راوګرځي .

داکترطالب وويل: وروروحکمتيار دهماهنګي عالي شورا له هيئت سره دکتنې په وخت په دې ټينګاروکړ چې دهماهنګي عالي شورابايد داتحاد يوسمبول اودوحدت اوپروالي ديوې جبهي په حيث خپل پيوستون دپخواپه شان وساتي .

داکترطالب زياته کړه دهماهنګي شورا غړي تنظيمونه تصميم لري چې دخبرواترو له لارې دافغانستان دبحران دحل لپاره يوه ګډه لاره غوره کړي .

قاضي حسین احمد پيښور

له جلال آباد څخه دشهادت خبريال ريوټ راکوي قاضي حسين احمد پرون ترغرمې وروسته پداسې حال کې چې دننګرهار دلومړې نمبرقول اردو قوماندان وګرجنرال فضل الحق مجاهد له سرويې ته ورسره ملګرتيا کوله ، ددوو بجويه شااوخواکې دجلال آباد ښارته راورسيد .

ريوټ وايي قاضي حسين احمد جلال آبادته تررارسيدو وروسته دجلال آباد په دولتي ماڼي کې دننګرهاردجهادي شورا رئيس او والي حاجي عبدالقدير سره يې وکتل .

په ريوټ کې زياته شوي چې پدې کتنوکې قاضي حسين احمد دافغانستان دروانو حالاتو، دحزب اوجمعيت دتفاهم اونورو مربوطه مسايلوپه اړه له حاجي عبدالقدير سره خبري وکړې.

تردغه خبرواترو وروسته چې تقريباً يونيم ساعت يې دوام درلـود، قاضي حسين احمد له جلال آباد څخه د پيښور په لور راروان شو.

بل خوا په پيښورکې دکشميرنيوال آژانس K.P.I دريوټ مطابق قاضي حسين احمد اودپاکستان دجماعت اسلامي دسولي هيئات بيګاه ماښام پيښورته راورسيد .

قاضي حسين احمد اوملګري هيئات يې دروان کال دمې دمياشتې په اوايلوکې افغانستان ته سفرکړي وو، اوهلته يې دحزب اسلامي افغانستان پرامير ورور حکمتيار،او دجمعيت اسلامي پرمشر استادرباني، سربيره له احمدشاه مسعود اوځينونورومشرانوسره ليدنې کتنې کړي دي .

قاضي حسين احمد پيښورته تر راستنيدو وروسته دخپل سفرپه باب څه څرګندونه نده کړې ، خودافغانستان په دننه کې يې خپل فعاليتونه ګټوراومثبت ارزيابي کړي .

يک عضو

گلبتن طالب آن شد تا براي خاتمه وضع درد آوركنوني درافغانستان مساعي لازم بخرج دهد .

وي جامعه بين المللي رانيز مورد انتقاد قرار داده گفت بجاي آنکه اين جامعه درجهت اعمارمجدد ،حفظ حقوق بشر واستقرار صلح وثبات درافغانستان تلاش نمايد ، بحيث يك تماشاچي صحنه هايي از مصايب ومشکلاترامشاهده مي کند که دامنگير افغان ها بوده وشعله هاي آتشي رانظاره مي کنند که مردم افغانستان درآن مي سوزد .

هم چنان برخي ازاعضاي مجلس نمايند گان امريکا ازتهديدامنيت منطقه که ازبي امنيتي افغانستان نشئت مي کند، هشدارداده اند .

چاته چې د

خداي (ج) دملائکويه واسطه کله چې انسان دموريه رحم کې وي دده دروزي په باب انتظام جوړکړي اوداژوندانه په لمړيو مرحلوکې يې دموريه شيدوکې ماشوم ته رزق اوروزي برابره کړي ده .

دحزب اسلامي امير زياته کړه هيله مندیو کله چې مونږ مجاهدينوته دکومې سيمې کنترول سپارل کيږي دواقعي سرتيروپه حيث به دخلکو دعزت او آبرونه دفاع کوي .

ورور حکمتيار دخپلې ويناپه بله برخه څرګنده کړه : زمونږ مجاهد وروڼه دګډغو دوتکوته متوجه وي؛ لمړي داچې تل کوشش وکړي . دهغو اشخاصوڅخه لري وګرځي ، دوهم داچې دنيکواوخداي پرستو خلکوپه لټه کړي‌اوي اوله هغوسره دې مرسته وکړي .

دوردګو

غلچکيوبريدونو پيل وکړ، خود مجاهدينو له خوادبشپړمقاومت سره مخ شول اوماتي يې وخوړه .

ريوټ وايي ددې جګړې په ترڅ کې دمقابل طرف داووکسانومړي دجګړې په ډګرپاتې دي . او مجاهدينوددې بريالیو عملياتوپه ترڅ کې يوزيات مقدار وسلې، توپونه اوټانکونه ترلاسه کړي دي، همدارازدطالبانو لـه افرادو څخه (۲۵) تنونيول کيدو راپورهم ترلاسه شوي .

په ريوټ کې داهم ويل شوي چې مجاهدينوپه د غـوردې ورځې بريالیو عملياتوکې لرکي دبي ايم ۱۲ درې دستګا، شپږميله زيکو يو، پنځه لس ميله دهشکې، درې ضـربه ۷۰ ملي متري توپونه ،پنځه ضربه بي ايم ۱ ، اته ضربه منځني هاوانونه ،پنځه ميله ګرينوف ماشينداري، شپږ سيټه واکي ټاکي مخابري، ،(٦) چينه بيلابيل ټانکونه ، يوزنجيرمحاربوي ټانك، يوعراده کاماز موټر، او دوه عرادې موټرسايکلونه ترلاسه کړي دي .

اوهمداراز دطالبانو دځواکونه ۲۵ تنه وسله وال کسان ئې اسيران کړي دي .

جمعیت

وتابه سامانيِ هاي فزاينده درروسيه گسترش اسلام درقرن آينده بيش ازپيش متصور مي باشد .

منبع مي نويسد هم چنان درقرن آينده دين اسلام در سراسر روسيه ازاولويت وبرتري خاصي برخوردار خواهد شد .

محمود دمستیري

سرپرست لفرائي اوداکترعبدالرحمن سره خبري وکړي .

دريوټ په اساس دمستيري اواستادرباني په کتنه کې دافغانستان ملي جنبش دمشرجنرال [illegible] دوستم سره دمستيري پرخبرواتروغوروشو .

دیادونې وړده چې مستيري دافغانستان دبحران دپای دپاره دشپږپړاونو هلوځلوسره ، سره تراوسه پورې کوم بری نه دي ترلاسه کړي .اونه هم ددغه هلي ځلي کومه مثبته نتيجه ورکړي .

سفرهیئت کابل به اسلام آباد

پاکستان، مذاکـرات هيئت افغانستان وپاکستان رايك تحـول بزرگ درجهت ازميان برداشتن سردي روابط ومناسبات ميان دوکشورخوانده است .

لازم به تذکر است کـه هيئت افغاني پس ازمذاکـره و گفتگو باسردارآصف احمدعلي وزيرامورخارجـه پاکستان دراسلام آبـاد ،روزپنجشنبه بـه کابل بازگشت .گزارش ديگري حاکيست الحنير احمدشاه احمدزي کفيل صدارت افغانستان سفرهيئت کابل به پاکستان راسرآغازبهبودروابط ميان کابل واسلام آباد خواند .

سفارت افغانستان دراسلام آباد طي صدور بيانيه اي، آماد گي خـود را براي اعمارسفارت پاکستان وتأمين امنيت کارکنان آن درکابل ابرازداشته است .

دراين بيانيه درحاليکه سفرهيئت کابل به اسلام آباد ثمربخش خوانده شده ، نسبت به طرح اعمار شاهراه چمن - تورغندي توسـط پاکستان ، اظهار علاقمندي گرديده وکابل خواستار اجراي پروسه مذکور طبق قرارداد قبلي بين دوکشورشده است .

همزمان با آن، وزارت خارجه

دتنظیم محصلین په يو شمیر حوزو کې انتخابات ترسره شول

پيښور - دغوايي ۲۲ مه :

دتنظيم محصلينو په يوشميرحوزوکې انتخابات ترسره شول .

دتنظيم محصلين يوې خبري منبع شهادت تـه وويل چې : دافغانستان په اسلامي پوهنتون کې دمرکزي دفترسرپرستي لاندې انتخابات ترسره شول.

په دغوانتخاباتو کې د پوهنتون دمحصلينو عمومي مدير عطائي ، دانجنيرۍ پوهنځي رئيس انجنير محمدکريم اوشاغلي ګوون درلود په انتخاباتو کې محمدقسيم رشيدي دناظم ، خواجه اسمعيل دمالي مسئول اوعزيزالله وسالك دفرهنګي مسئول په ترګه وټاکل شول.

همدغه شان دحضرت امام ابوحنيفه (رح) ديوره، پـه عمومي حوزه کې هم انتخابات ترسره شول چې مولاګل دحوزې دناظم ، نعمت الله دمرستيال ، عبدالحليم دفرهنګي مسئول، فريدشاه «مباخيل» دمعاون اووحيدالله ددعوت دمسئول په توګه وټاکل شول.

ديويل خبر لـه مخې دلوګردولايت دمحصلينو ترمينځ دلانبه فعاليت په خاطر په دې وروستيو ورځوکې دانتخاباتويه نتيجه کې ددعوت او جهاد دپوهنتون محصل عبدالحميد«حليمي» دناظم په توګه اوددعوت اوجهاد دپوهنتون محصل صالح محمد دمعاون په توګه وټاکل شول.

دچيچن د ... سهالي ... دروسي خلك ديوسي يوځ پرخلاف احتجاجي مظاهره کوي.

دتاجکستان دحکومت

سره په جګړو اونښتوکې (٤٥) تنه حکومتي او روسي عسکروژلي اوپولس ته ئې اسيرنيولي دي .

په تاجکستان کې مېشتوروسي لښکرو اوحکومتي عسکرو څوځلې ناکامې هڅې کړې دي چې دمخالفينو له ولکې نه خپل اسيران دجګړې دشدت په نتيجه کې آزاد کړي خوله ماتوسره مخامخ شوي دي .

راديوبيلي دي چې د دروسي اوتاجکي ځواکونو له پرله پسې ماتو وروسته روسي لوئکو دمخالفينو ترکنترول لاندې سيمواندې سخته اودوامداره هوائي چاپې کړي ده چې ګيداي شي له مخالفينوڅخه ئې په هوائي بمباره انتقام اخيستي وي ، خو تراوسه پورې ددغوپرله پسې بمبارو لـه امله درسيدلي ځانې اومالي تاوان په هکله کوم ريوټ نه دي ورکړل شوي .

جماعت اسلامی پاکستان مظالم

چوك راولپندي براه انداخته شده بود .

مظاهره کننده گان ، خـواستار خروج نظاميان اشغالګرروس ازچيچن وخاتمه حملات سرکوب گرانه نظاميان روسيه برمسلمانان مظلوم آن جمهوريت گرديدند.

دراين گردهمايي ازکنفرانس کشورهاي اسلامي وسازمان ملل متحد تقاضا به عمل آمد بخاطرکسب استقلال وآزادي دوباره مسلمانان چيچن دست بکارشده وگام هاي عملي وموثري بردارند .

دراين تظاهرات که برخي ازاعضاي بلند پايـه جماعت اسلامي پاکستان نيزشرکـت ورزيده بودند درفش هاي سبز اسلامي و شعارهاي ضدروسي بطرفداري مسلمانان چيچن همه جارا مزين ساخته وبه شگوفايي هرچه بيشتر اين اجتماع افزوده بود.

هم چنان درتظاهرات يادشده شعارهاي (خون شهداي مبارزان چيچن ، شکست حتمي روس رادربي دارد - راه پيروزي جهاد است ومسلمانان جهان متحد شويد) هرطرف طنين اندازبود .

مولانا عبدالجليل يکي ازاعضاي برجسته جماعت اسلامي پاکستان به مظاهره کننده گان خطاب نموده گفت که روسها وامريکايي ها درمقابل مسلمانان جهان همدست ويکپارچه شده اند اما اينکارهيچ تاثيري رابرروحيات مسلمانان واردنخواهد کرد .

دراخير مظاهره کننده گان درمقابل سفارتخانه روسيه دراسلام آباد تجمع نموده ونامه احتجاجيه اي را تحويل کارمندان سفارتخانه کردند .

دحزب اسلامی امیرورور

شهادت تـه وويل په دغـه کتنه کې دننګرهارولايت دلمړي نمبر قول اردو قوماندان فضل حق مجاهد هم برخه لرله .

منبع زياته کړه ددغې کتنې په ترڅ کې دهيواد دروانو حالاتو اوهمدارازپه کابل کې دپاکستان دسفارت دبياپرانيستو په باب خبرې ترسره شوي.

په ريوټ کې ويل شوي همداراز دحزب اسلامي امير ورور حکمتيار دتقلوپه لمړي نمبر قصرکې دحزب اسلامي اجرائيه شورادپوشمير غړوسره وکتل .

په دغه کتنه کې چې دحزب اسلامي افغانستان دټولنيزو خدماتو دکميټې رئيس استادعلي انصاري ، دحزب اسلامي دقول اردو قوماندان کشميرخان ، دمالي چارو رئيس انجنيرعبدالسلام «هاشمي» اودننګرهاردلمړي نمبر قول اردو قوماندان فضل حق مجاهد ګډون درلود ، دهيواد دروانو تحولاتو اومسائلوپه باب خبري اودنظرتبادله وشوه اولازم تصاميم ونيول شول .

فراز ونشیب ...

عودت خواهند کـرد. رهبران افغان از انسداد و بسته شدن سرحد پاکستان اظهار رنجش و تنفر کردند.

پاکستان مجبورشد تا ۲۳ قلم جنس متذکره در معاهده، تجارت ترانزيتي افغانستان را ممنوع اعلام کند، زيرا ازين تسهيلات سوء استفاده، وسيعي صورت ميگرفت کـه نه تنها خسارات عظيم عايداتي بـر پاکستان وارد ميآورد، بلکه تمامي سکتورها و بخشهاي اقتصاد رنجور کشورما را نيز مورد تهديد قرار ميداد.

- اختطاف يك بس مملوء از شاګردان مکتب پشاور توسط سه افغان مسلح به نمايندگي افغانستان واقع در اسلام آباد در ماه فروري ۱۹۹٤،

- قتل گروگانگيران افغان طي يك عمليات رعد آسا توسط کوماندوهاي پاکستاني،

- حمله بر سفارتخانه، پاکستان در کابل نخست در ماه فروري ۱۹۹٤ و سپس در ماه سپتمبر ۱۹۹٥،

- ظهور پديده، طالبان،

- فغان و واويلاي حکومت رباني در مورد دخالت پاکستان در امور داخلی افغانستان؛

- مسدود گرديدن نمايندگي پاکستان در کابل،

- پيگيري تسهيلات عمده از حکومت رباني،

- اخراج سيزده ديپلومات افغان از پاکستان باعث شد تا روابط بين دو کشوربارديگر وخيمتر گردد.

جلسات وزرای خارجه

صدراعظم ووزيرامورخارجه ترکمنستان براهميت گسترش همکاري هادرچارچوب (ايکو) تاکيد کردواظهارداشت : افتتاح راه آهن مشهد سرخ تجن درهفته جاري يکي از مهمترين طرح هاي مشترك ايکو ونتيجه عملي کشورهاي عضواين سازمان است .

قرارگزارش درنشست روزگذشته ايکو درعشق آباد لفرائي سرپرست وزارت خارجه دولت کابل نيز طي سخناني گفت : راه اندازي راه آهن مشهد سرخ تجن درچهارچوب همکاري هابسيارمهم وموثر است .

درين جلسه ترکمنستان براي دومين سال پياپي بـه رياست شوراي وزيران ايکوبرگزيده شد وکشورهاي ايران، ترکيه ، افغانستان ، پاکستان ،ترکمنستان ،آذربايجان ، تاجکستان ، قرغزستان ،قزاقستان وازبکستان عضو آن هستند .

نوم بدلول

داسلامي پوهنتون دانجنيري پوهنځي محصل بادام ګل خپل نوم په زاهد الله «زاهدي» بدل کړي . هيله ده نوريې په نوي نوم ياد کړي .

خبرتیا

دحزب اسلامي افغانستان داسرأ اداري مربوطو قارغانوته خبروکول کيږي چې دنوي کال په مناسبت دخپل رسالت داداکولو پـه خاطر داسـراء مربوطو نمايندګيوته مراجعه اودخپلودندو په اړه لازم هدايات ترلاسه کړي .

پته : پيښور - نصرت مينه دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر.

جلال آباد - دګارنيزيون مقر

لغمان: دولايتي دفترترڅنګ داسراء نماينده ګي